پښتو

# دامیرِ اهلِسُنّت عمره

# او د مدینې مُنوّرې حاضري

2022







- د عُمرې فضیلت
- په مکّهٔ مُکرّمه کښې یوه شپه
- په بارګهِ رسالت کښې اولنۍ حاضري
- په مدینهٔ منوّره کښې آخرۍ شپه

پیشکش:
مجلس المدینة العلمیه (دعوتِ اسلامی)
ترجمه:
ټرانسلیشن ډیپارټمنټ (دعوتِ اسلامی)

# عـــرض

که د حج اراده وي که د عُمرے سفر وي، که د مدینے مُنَوَّرے حاضري وي او که د مکّے مُکرَّمے اراده وي، د حرمَینِ طَیِّبَین مبارك سفر ډیر خوندور او د شوق نه ډك وي، یو عاشقِ رسول داسې نشته چې هغه په خپل زړه کښې د مکّے مُکرَّمے یا د مدینے مُنَوَّرے د دیدار ارمان نه لري.

د مدینے مُنَوَّرے حاضري د مُومن معراج دے. د مدینے مُنَوَّرے د حاضرۍ شَرف حاصلوونکي خوش نصیبه عاشِقانِ رسول قابلِ رَشک دي. **الله** پاك دې مونږ ټولو ته بیا بیا د مکّے مُکرَّمے او مدینے مُنَوَّرے د حاضرۍ سعادت رانصیب کړي.

وہ مدینہ جو کونین کا تاج ہے — جس کا دیدار مومن کی معراج
زندگی میں خدا ہر مسلمان کو — وہ مدینہ دکھادے تو کیا بات ہے

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الْکریم! په 20 ربیعُ الآخِر 1444ھ بمطابق 15 نومبر 2022ء، عاشقِ مدینه، امیرِ اهلِ سُنَّت، حضرتِ علامه مولانا محمد الیاس عطار قادري رضوي ضیائي دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه د مدینے مُنَوَّرے د سفر سعادت د عمرے شریفې په صورت کښې حاصل کړو. دا مختصر سفر په 5 ورځو مشتمل وو.

د دې رسالے د مُرَتَّب کولو د پاره د دعوتِ اسلامي د مختلفو ویډیوز نه او خاص طور د خلیفه و جانشینِ امیر اهل سُنَّت حضرت مولانا عبیدِ رضا عطاري مدني مَدَّظِلُّهُ العالي نه مدد اخستے شوے دے. په دې رساله کښې د امیرِ اهلِ سُنَّت د عمرے په باره کښې د ادب و شوق نه ډك معمولات او د مدینے مُنَوَّرے د سوز و رِقَّت نه ډکې حاضرۍ او جدائي بیان دے. د عاشقِ مدینه، امیرِ اهلِ سُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه د خپل خوږ کریم آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې د حاضرۍ د اِیمان نه ډك بیان به د عاشقانو د پاره ډیر خوندور ثابت شي.

اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم! د دې [رسالے] د لوستلو سره به مو په عشقِ رسول کښې نوره اضافه اوشي او په عشقِ مدینه کښې به بے قراري هم درنصیب شي.

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! ډیر د خوندونو نه ډکو حالاتو بیان دے. د پوره رسالے مطالعه اوکړئ. په رساله کښې د مدینے مُنَوَّرے د سفر ویډیو لنك (Link) هم شامل کړے شوے دے چې د هغې په ذریعه د مکمل سفر ویډیو هُم کتلے شئ. (محمد طاهر عطاري مدني عُفِیَ عَنْهُ)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

# د امیر اهلِسُنَّت عمره او د مدینے مُنَوَّرے حاضري (2022)

دعائے جانشینِ امیرِاهلِ سنّت: یا الله پاکه! څوک چې هُم دا رساله "د امیر اهلِسُنَّت عمره او د مدینے مُنَوَّرے حاضري (2022)" اولولي یا ئې واوري هغه ته د حرمَینِ طَیِّبَین نظارے لیدل نصیب کړې، بیا بیا د خوږې کعبے او خوږې مدینے مُنَوَّرے دیدار ورنصیب کړې او بےحسابه ئې اوبخښې.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیِّیْن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

## د دُرُودِ پاك فضیلت

خاتِمُ المُحَدِّثین،شیخ عبدُالحَق مُحَدِّث دِهلوی رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَیْه فرمائي: ما ته به خپل پیر و مُرشِد حضرت شیخ عبدُ الوَهَّاب مُتَّقِي(رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَیْه)هر کله د مدینے نه د رُخصتیدلو په وخت کښې فرمائیل: د حج په سفر کښې د فرائضو نه پس د دُرُود شریف نه بله لویه دُعا نشته. خپل ټول وختونه په دُرود کښې راګیر کړه او خپل ځان د دُرود په رنګ کښې رنګ کړه.

(مرأة المناجیح، 104/2)

ہر دَم مِری زباں پہ دُرودو سلام ہو    میری فضول گوئی کی عادت نِکال دو

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب    صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د عمرے فضیلت

اے عاشقانِ رَسُول! عمره شریف ډیر اهم عبادت او د خوږ آقا، محَمَّدِ مصطفٰـی صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سُنَّت دے، زمونږ خوږ نبـي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خپل ظاهري ژوند کښې يو حج او څلور عمرے ادا کړي دي. (بخاری، 587/1، حدیث: 1778) د عمره لفظی معنٰـی ده: زیارت [دیدار کول]، په شریعت کښې د دې معنٰـی ده: په مخصوصو شرائطو سره د بیتُ الله شریف زیارت [دیدار] کول. (تفہیم البخاری، 88/3)

د عمرے شریفې د فضیلت به څه وائې! په بُخاري شریف کښې دي: یوه عمره د بلې عمرے پورې د مینځنو ګناهونو کفاره ده.
(بخاری، 586/1، حدیث: 1773)

حضرت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د دې حدیثِ پاك په شرح کښې لیکي: علمائے کرام فرمائي چې د دوو عمرو په مینځ کښې صغیره ګناهونه مُعاف کیږي.
(مرآۃ المناجیح، 88/4)

راځئ! چې اوس د امیرِ اهلِ سُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ د عمرے شریفې حالات واورو:

## د امیرِ اهلِ سُنَّت د دُبـئ نه جدَّه شریف ته سفر

عاشقِ مدینه، امیرِ اهلِ سُنَّت، نګرانِ شُورٰی حاجي محمد عمران عطاري او حاجي علـي رضا[1] د خپل ځوئ حسن رضا سره د مدینے مُنَوَّرے د حاضرئ د پاره د خپلې استوګنې "عرب اَمارات" نه د جدّے په لور روان شول، صاحبزادۀ امیرِ اهلِ سُنَّت، الحاج عبیدِ رضا عطاري مدني مَدَّظِلُّہُ العَالِی د خپلې والده محترمې او د کور نورو خلقو سره ګویا چې د اِستقبال د پاره د مخکښې نه د عرب شریف مبارکو فضاګانو ته رسیدلي وو. په 20 ربیعُ الآخِر 1444ھ بمطابق 15

[1] .... د حاجی علی رضا بھائی تعلق پنجاب (پاکستان) سره دے او هغوئي د امیراهلِ سُنّت په خدمت کښې اوسیږي.

نومبر2022ء، د سه شنبے [یعني نهې] په ورځ د عمرے شریفې ادا کولو د پاره د مکّے مُکرَّمے روحاني سفر شروع شو.

## په لوئے عمر کښې عمره شریف

د امیرِ اهلِ سُنَّت پیدائش په26 رمضانُ المُبارک 1369ھ بمطابق 12 جولائی 1950ء د چار شنبے [یعني شروع] په ورځ شوے وو، دغسې د هجري کال مطابق د هغوئ عمر اوس تقریباً 74 کاله دے، عام طور چې په دې عمر کښې د کومې کمزورئ حالت وي په هغې هر باشعوره انسان پوهیږي، په ظاهره وړوکے شان کار اودس کول هم ګران پریوځي، د دې عمر انسان بے همسا ګرځیدل ډیر لوئے نِعمَت دے. چا څه ښه وئیلي دي:

دَست وپا گوش وزباں ہوش میں ہیں　　　　کرنا ہے جو کرلے آج ہی

[د شعر مفهوم] یعني (عام طور) په بوډا والي کښې لاسونه ښپې رپیږي، ژبه نښلي او د اوریدلو طاقت هُم کم شي لِهذا اوس په ځوانئ کښې ستا لاسونه، ښپې، غوږونه او ژبه په خپل اختیار کښې دي، نن چې څومره نیك کارونه کولے شي اوئې کړه.

## په ځوانئ کښې عبادت اوکړئ

د خپلې ځوانئ د نِعمَت نه فائده اوچته کړئ او د **اللہ** پاك د عبادت او فرمانبردارئ په کارونو کښې وخت تیر کړئ، صرف په بوډاوالي کښې د عبادت کولو ذِهن جوړول یو بیکاره خیال او اوګرځِد اُمید دے، فرض کړئ که بوډا والي ته رسیدلو کښې چا ته کامیابي نصیب هُم شي خو بیا ئې لاسونو، غوږونو، سترګو وغیره ټولو اندامونو مرګ ته د نِزدې کیدو په وجه کار پریښودے وي، نور عبادتونه څه چې فرض لمُونځونه په ولاړه کول ورته هم ګران شي. اعلٰی

حضرت، امام اهلِ سُنَّت مولانا شاه احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي:

اُترتے چاند ڈھلتی چاندنی جو ہو سکے کر لے　　اندھیرا پاکھ آتا ہے یہ دو دن کی اُجالی ہے

(حدائقِ بخشش، ص 182)

شرحِ کلامِ رضا: اے ځلميه! خپله مضبوطه ځواني غنيمت اوګڼه او ځومره عبادت چې کولے شې اوئې کړه، مرګ راروان دے او نزدې ده چې د قبر توره شپه به وي، د ژوند رڼا خو بس دوه ورځې ده، دا ډيره زر ختميدونکې ده. حُضُور مُفتئِ اعظم مولانا مصطفٰے رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکي:

رِیاضت کے یہی دن ہیں بڑھاپے میں کہاں ہمت
جو کچھ کرنا ہے اب کر لو ابھی نُوری جَواں تم ہو

(سامانِ بخشش، ص 160)

[ترجمه: د عبادت ورځې هم دا دي په بوډا والي کښې بيا همت چرته وي، څه نيکي چې کول غواړې نو اوس ئې اوکړه ځکه چې اوس دې ځواني ده.

## د عطار خواهِش

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! لږ غور اوکړئ! يو طرف ته د عمرے شريفې د ارکانو ادا کولو مُعامَله ده، بل طرف ته د 74 کاله عمر والا بُزُرګ، ناتواني او کمزوري هم ده، خو د عطار د زړه خواهش دے چې په ژوند کښې مې کله هم په وهيل چيئر [د تيرونو په کرسئ] باندې طواف نه دے کړے. اوس هم په خپلو ښپو د کعبے نه چاپيره د طواف کولو خوند اخستل غواړم، بس بيا څه وو د زړه خواهش پوره کولو د پاره ئې د زَم زَم شريف اوبه اوڅښلې او دوه درې ځله ئې دُعا اوغوښتله. يو ځل د جدّے شريفې نه د مکّے مُکرَّمے په لور د روانيدو په وخت، په دويم ځل په حرم شريف کښې د طواف کولو نه مخکښې. الله پاك په خپل بنده باندې داسې فضل او رحم اوفرمائيلو چې نه صرف طواف بلکه [د صفا او مروٰی] په سعي

کښې هم د وهیل چیئر ضرورت پیښ نه شو او داسې کرم اوشو چې دا ارکان په یو اوداسه کښې ادا شول. د دې نِعمَت په شُکرانه کښې د عطار زړه د **اللہ** پاك په بارګاه کښې ټِيټ شو او سجدهٔ شکر ئې ادا کړه.[1]

یہ زمزم اس لئے ہے جس لئے اس کو پئے کوئی
اسی زَمزم میں جنت ہے اسی زَمزم میں کوثر ہے

(ذوقِ نعت، ص 254)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## په مسجدُ الحرام شریف کښې حاضري او د کعبے زیارت کول

په 20 ربیعُ الآخِر 1444ھ بمطابق 15 نومبر2022ء، د سِه شنبے [یعني نهې] په ورځ عمره شریف ادا کول وو، د عمرے احرام تړلو سره ئې نِیَّت اوکړو او تلبِیَه یعني "لَبَّيْكَ ط اَللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ ط لَبَّيْكَ لَا شَرِيْكَ لَكَ لَبَّيْكَ ط اِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ ط لَا شَرِيْكَ لَكَ ط" ئې اولوستله او قافله د مکے مُکرَّمے په لور روانه شوه. مکه مکرمه کښې هوټل ته را اورسیدل، لږ ساعت آرام وغیره کولو نه پس مسجدُ الحرام شریف ته روان شولو، په مسجدُ الحرام شریف کښې ښې قدم کیښودلو سره ئې په اوچت آواز (کیدے شي چې ورسره نورو موجودو عاشقانِ رسول ته د وریادولو په نِیّت) د

[1] ... دُعا کولو نه مخکښې زم زم شریف څښل [دُعا] قبلیدو ته زیات نزدې دي. حضرتِ امام ابو زکریا یحیٰی بن شرف نووی شافعی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي : د هغه کس د پاره مُستحب دي څوک چې د بخښنې د پاره یا مرض وغیره نه د شِفا د پاره آبِ زم زم څښل غواړي چې قبلے طرف ته مخ کړي او بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم ط دې اولولي بیا دې اووائي: یا **اللہ**! ما ته دا حدیث را رسیدلے دے چې ستا رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي :" آبِ زم زم د هغه مقصد د پاره دي د کوم [مقصد] د پاره چې اوڅښلے شي. " ( ابن ماجه، 490/3، حدیث: 3062) (بیا داسې دُعاګانې اوغواړئ مَثَلاً) اے **اللہ** پاکه! زه دا [آبِ زم زم] د دې د پاره څښم چې ته ما اوبخښې، یا اے **اللہ** پاکه! د دې د څښلو په ذریعه د خپل مرض نه شِفا غواړم، اے **اللہ** پاکه! پس ته ما ته شِفا راعطا کړې" او د دې په مثل ( یعني د ضرورت مطابق نورې مختلفې دعاګانې دې اوکړي) (الایضاح فی مناسک الحج للنووی ،ص401)

اعتِکاف نیت کولو سره ''نَوَیۡتُ سُنَّتَ الۡاِعۡتِکَاف''اووئيلو. کعبے مُعَظَّمے طرف ته روان وو، څنګه چې مطاف (یعني د طواف کولو ځائے) ته اورسيدلو، د جلال و جمال نه ډکه نظاره د سترګو په وړاندې وه. د کعبةُ الله شریفې ښائسته او ښکلې نظارے د خپل نورانيت سره د نظر په وړاندې وې، د سترګو نه ئې اوښکې رواني شوې او په دې حالت کښې ئې د خانۀ کعبے ديدار کولو سره لاسونه د دُعا د پاره اوچت کړل، او د **الله** پاك په بارګاه کښې په ژړا ژړا د دُعاګانو سلسله جاري شوه.

## د خانۀ کعبے طواف او د حجرِ اسود استلام

څه ساعت په دې کیفیت کښې اوسیدلو نه پس ئې د خانۀ کعبے د طواف کولو د پاره دريو ساه ګانو کښې زم زم شریف اوڅښلې او اضطباع ئې اوکړه[1] بیا ئې بِسۡمِ اللهِ اَللّٰهُ اَکۡبَرۡاووئيلو او درې ځله ئې د حجرِ اسود استلام[2] اوکړو او طواف ئې شروع کړو. په وړومبنو دريو چکرو کښې ئې رمل[3] اوکړو د طواف په دوران کښې ئې په ژبه د مختلفو دُعاګانو سره سره درود شریف جاري وو او کله به ئې د اوښکو نه ډکو سترګو سره دا دُعائیه شعر بیا بیا وئيلو:

---

[1] ... یعني څادر د ښي لاس د ترَخ نه لاندې داسې تیرول او د څادر دواړه طرفونه په ګڅه اوګه داسې را اچول چې ښئ اوګه ښکاره پاتې شي. (رفيق المعتمرين، ص42)

[2] ...په رفيق المُعتمرين کښې دي: که ممکن وي نو په حَجَرِ اَسود شریف دواړه لاسونه کیږدئ او د لاسو په مینځ کښې خُله کیږدئ او داسې ئې ښکل کړئ چې آواز پیدا نه شي، او که د ګڼې [رَش] په وجه ئې ښکلولے نه شئ نو خلقو ته تکلیف ورکولو نه ځان ساتئ، او مه پخپله ځان د چیتیدلو یا دباویدلو په تکلیف کښې اچوئ بلکه لاس یا لښته حجرِ اسود سره مَس کړئ او [بیا هغه لښته یا لاس] ښکل کړئ یا په لاسونو اشاره اوکړئ او بیا لاسونه ښکل کړئ، آیا دا وړه خبره ده چې د **الله** پاک د آخري نبي صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خُلې مبارکې ایښودلو ځائے باندې ستاسو نظر پریوځي. حجرِ اسود ښکلولو یا هغې ته لاس لګولو یا لښته لګولو او بیا هغه لاس یا لښته ښکلولو ته ''اِستِلام'' وائي. (رفيق المُعتمرين، ص43)

[3] ... یعني زر زر واړه واړه قدمونه ایښودلو او اوګې خوزولو سره تلل څنګه چې طاقتور او بهادر خلق ځي. (رفيق المعتمرين، ص45)

مسلماں ہے عطار تیری عطا سے
ہو ایمان پر خاتمہ یاالٰہی

سُبْحٰنَ اللّٰه! سُبْحٰنَ اللّٰه! سُبْحٰنَ اللّٰه! هغه به څنګه د ذوق او شوق نه ډك ساعتونه او نظارے وي چې کله د **اللّٰه** پاك يو رښتينے نيک بنده په ژړا ژړا د هغه د پاک کور طواف کوي.

تصدُّق ہو رہے ہیں لاکھوں بندے گرد پھر پھر کر
طوافِ خانۂ کعبہ عَجَب دِلچسپ منظر ہے
(ذوقِ نعت، ص 253)

## د مقامِ ابراهيم حاضري

مُعتَمِر (يعني عمره کوونکے) چې کله د طواف ووه چکرې پوره کړي نو د مقام ابراهيم خوا ته نِزدې که ځائے مِلاو شي نو بهتره ده ګنې په مسجدُ الحرام کښې که هر ځائے مِلاو شي چې مکروه وخت نه وي نو دوه رکعته د طواف لمُونځ ادا کول واجب دي. (بهار شريعت، 1102/1) اَمِيرِ اهلِ سُنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د طواف لمُونځ ادا کولو نه پس د ”مقامِ ابراهيم“ خوا ته دُعا اولوستله. (رفيق المُعتمرين کښې په صفحه 63 باندې دا دُعا ليکلے شوې ده).

## د ملتَزَم شريف حاضري

د طواف د لمُونځ نه پس د مُلتَزَم شريف[1] حاضري سُنَّت ده، اَمِيرِ اهلِ سُنّت خپلو ملګرو عمره کوونکو ته د مُلتَزَم د حاضرئ انداز بيانولو کښې اوفرمائيل: مونږ له په داسې طريقه حاضري ورکول دي چې مُلتَزَم ته مخامخ يُو. ځکه چې د کعبے شريفې په ديوال او غلاف باندې ډيره خوشبو لګيدلې وي او مُحرِم ته (يعني په حالتِ اِحرام کښې) د خوشبو نه بچ کيدل وي په دې وجه هغې له ورغاړه وتلو او لاس وغيره لګولو نه احتياط اوکړئ. **اللّٰه** پاك چې خومره غوښتله اَمِيرِ اهلِ سُنّت هلته حصار شو په ډيره زارئ او ژړا ژړا سره ئې په زړه زړه کښې دُعا

[1] ... د خانهٔ کعبے د دروازے او حجرِ اسود مينځني ځائے ته مُلتَزَم وائي.

اوغوښتله. زم زم شریف ئې اوڅښلې بیا ئې دوباره دُعا اوکړه او د سعي د پاره د صفا مروٰی په لور روان شولو.

## سعي او حلق

د سعي ووه پیرې کولو نه پس دوه رکعته د سعي لمُونځ ادا کول مُستحَب دي. (درمختار، 589/3)
د سعي لمُونځ ادا کولو نه پس هغوئي د مسجِدُ الحرام نه بهر تشریف راوړلو. رهائش ګاه (هوټل) طرف ته چې راروان وو نو په لاره کښې د خوږ خوږ آخري نبـي محمَّدِ عربـي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ولادت شریف عالي شان کور په خوا تیریدلو نو په ډیر عقیدت او محبت سره ئې هغه طرف ته لاسونه اوچت کړل او بیا ئې ښکل کړل. هوټل ته چې را اورسیدلو نو حلق [یعني سر خرئیلو] والا اسلامي ورور حاضر وو. هغوئي د سر خرئیلو یو څو مدني ګلونه بیان کړل او سر ئې اوخرئیلو او دغسې اَلْحَمْدُ لِلّٰه! عمره شریف پوره شوه. هغوئي لیکي:

شَرَف مجھ کو عُمرے کا مولیٰ دِیا ہے کرم مجھ گنہگار پر یہ بڑا ہے
(رفیق المعتمرین)

## د هر اودس په بدله کښې یوه کفّاره

خوږو او محترمو اسلامي وروڼـو! په مُحرِم (یعني احرام تړلو والا) باندې د اِحرام ضروري مسائل زده کول لازم دي. د اَمیرِ اهلِ سُنّت عادت مبارك دے چې که د حج سفر وي او که د عمرے شریفې [سفر وي]، هغوئي د احرام په حالت کښې د هر اودس په بدله کښې احتیاطاً یوه "صدقۀ فِطر" [سرسایه] د الله پاك په لاره کښې ورکوي چې که په اودس کولو کښې د سر یا ګیرې نه وتلو ویښتو کفَّاره جوړه شي. په دې عمره کښې هغوئي درې څله اودس اوکړو او د هغې ئې درې سرسائے ادا کړې. (د حج او عمرے ضروري مسائل زده کولو د پاره د اَمیرِ اهلِ سُنّت کتابونه رفِیقُ الحَرَمَین او رفیقُ المُعتَمِرین اولولئ. دا کتابونه د دعوتِ اسلامي د ویب سائټ

www.dawateislami.net نه فري ډاؤن لوډ کیدے هم شي.)[1]

## په مکه مکرمه کښي د دعوتِ اسلامي والؤ د پاره دعائے عطار

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! ولې چې اَمیرِ اهلِ سُنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَة داسې شخصیت دے چې دوئي سره محبت او عقیدت لرونکي خلق ډیر زیات دي، په دې مبارك سفر کښي هغوئي د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اُمَّت د پاره د دُعاګانو سره سره خپلو مریدانو، طالِبینو او محبت کوونکو د پاره ډیرې دُعاګاني اوکړې. د عمرے شریفې ادا کولو نه پس [د امیر اهلِ سُنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَة] یوه دُعا اولولئ:

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ

یاربَّ المُصطَفٰی! زمونږه عمره شریفه قبوله کړې. اِلٰهَ الْعٰلَمِیْنَ! د مکّے مُکرَّمے او د حرم یخي یخي پاکې هواګاني چلیږي. اے زما مولا! د اُمَّت بخښنه اوفرمائے. یا الله پاکه! خاص طور هر دعوتِ اسلامي والا بے حسابه اوبخښې. اے الله پاکه! څومره چې هُم دعوتِ اسلامي والا دي، او څوک چې هُم دعوتِ اسلامي سره محبت کوي د ټولو عاشقانِ رسول نه د همیشه همیشه د پاره راضي شې.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیِّیْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1]... مسئله: [که د اِحرام په حالت کښي مو] په اودس کولو کښې، ګرولو یا ګمنز کولو کښي که دوه یا درې ویښته اولویږي نو د هر ویښته په بدله کښي یو یو موټے غلّه یا یوه یوه ټکره ډوډۍ یا یوه چوهاره خیرات کړئ او که د دریو نه زیات اولویږي نو صدقه به ورکوئ. که د لاس لګولو نه بغیر ویښته را اولویږي یا د بیمارئ په وجه ټول ویښته هُم اوخیژي نو هیڅ کفَّاره نشته. (بهار شریعت، 1171/1 )

## په مکه مکرمه کښې يوه شپه

اے عاشِقانِ رسول! مکه مکرمه د دُنيا ډير پخوانے او د برکتونو نه ډك ښار دے، **الله** پاك د دې ذِکر په قرآنِ کريم کښې هم فرمائيلے دے، زمونږه د خوږ آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم 63 کاله ظاهري ژوند نه 53 کاله د دې مبارك ښار په حِصّه کښې راغلي دي. اَميرِ اهلِ سُنّت نن ورځ او راروانه شپه په مکه مکرمه کښې تيره کړه. اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْكَرِيْم! صبا 8 بجے به په ريل کښې د مدينے په لور روانيږي. هغوئي د شپے ناوخته طعام اوخوړلو او بيا ئي د مکّے مُکرَّمے د هواګانو نه برکتونه حاصلولو د پاره بهر ته تشريف يوړلو او څه وخته پورې په قلاره قلاره اوګرځيدلو. په دې دوران کښې هم هغوئي د خيرخواهئ او همدردئ سلسله جاري اوساتله، د بعضې اسلامي وروڼو د زړه ساتلو د پاره ئي هغوئي ته ويډيو او وائس پيغامونه ليګلو سره سره مدني ګلونه ورکړل او دُعاګاني ئي ورته اوکړې. د کراچئ (پاکستان) د يو مَدَني اسلامي ورور آپريشن وو، اَميرِ اهلِ سُنّت څه په داسې انداز کښې د هغه تپوس اوفرمائيلو:

اَلْحَمْدُلِلّٰه! د شپې تقريباً پاؤ باندې څلور بجے دي، د مکّے مُکرَّمے په کوڅو کښې ګرځم، اَلْحَمْدُلِلّٰهِ الْكَرِيْم! د عمرے شريفې سعادت رانصيب شو.

آ که روح کی ہر تہ میں سَمولوں تجھ کو　　　اے ہوا! تُو نے تو سرکار کو دیکھا ہوگا

**الله** کريم! دې تاسو ته د مکّے مُکرَّمے د برکتونو په خاطر شِفا درعطا کړي او ستاسو آپريشن دې **الله** پاک کامياب کړي، د سائيډ ايفيکټس [د دواپانو وغيره د بد اثر نه مو] الله پاک اوساته، نو حوصله مضبوطه ساتئ **الله** پاک به خير کړي.اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْكَرِيْم!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب　　　صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ډیر زر به مونږه د مدینے د ګلزار په لور روان شُو

نګرانِ شُوریٰ حاجي محمد عمران عطاري مَدَّظِلُّهُ العَالِی د اَمِیرِ اهلِ سُنّت عمره شریف ادا کولو نه پس د شوق و محبت نه ډك حالات څه داسې بیانوي: اَمِیرِ اهلِ سُنّت چې په مکه مکرمه کښې د هوټل په کومه کمره کښې وو، د هغې خوا ته کمره زما وه، اَمِیرِ اهلِ سُنّت دوه درې ځله د خپلې کمرے نه بهر ته تشریف راوړلو، بیرته خپلې کمرے ته د تشریف وړلو په ځائے ئې زما کمرے ته تشریف راوړلو، ځکه چې صبا سحر د دواړو جهانو د تولو نه ښکلي ښار مدینے ته د خوشحالئ نه ډك سفر وو ګویا خوشحالي ئې د مخ نه ځلیدله او عاشِقِ مدینه د مدینے په یاد کښې په ډیره مینه مختلف اشعار لوستل، د امیر اهلِ سُنّت حال د دې شعر مصداق ښکاریدلو:

یارب! سُوئے مدینہ مستانہ بن کے جاؤں　　اُس شمعِ دوجہاں کا پروانہ بن کے جاؤں

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## که مدینه مو اونه لیدله نو هیڅ مو اونه لیدل

د الله پاك ډیر ډیر احسان دے چې د ژوند د یو ښکلي سپرلي نه ډکه ورځ شروع کیږي، د عاشقانو د معراج خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې د حاضرئ ساعتونه راتلونکي دي. مدینے منورے ته روانیدو نه تقریباً دوه ګینټے مخکښې د عاشِقِ مدینه په عشقِ مدینه کښې ډوبې ښکلې نظارے کتلو د پاره دا لِنک کلِک کړئ او اوګورئ چې مدینے ته د تللو خوشحالي څنګه وي.

https://www.ilyasqadri.com/medialibrary/124244

تمہارا کرم یا حبیبِ خدا ہے　　مدینے کی جانب چلا قافلہ ہے

(وسائلِ بخشش، ص 442)

# آدابِ مدينه

اے عاشِقانِ رسول! هُغه مبارك مقام د كوم ځائے آداب چې په قرآنِ كريم كښې بيان شوي دي. اِمام اهل سُنَّت، اعلٰى حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليكي: **اَمِيْرُالْمُؤْمِنِيْن،** حضرت عمر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ يو كس د روضے مباركې خوا ته په اوچت آواز خبره كولو اوليدلو نو اوئې فرمائيل: آيا ته خپل آواز د نبـي صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په آواز باندې اوچتوې او دا آيت ئې تلاوت كړو:

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَرْفَعُوْۤا اَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ

( پ 26، الحجرات:2)

[مفهوم]ترجمه كنزالايمان: اے اِيمان والؤ خپل آوازونه مه اوچتوئ د دې غيب ښودونكي (نبـي) په آواز باندې.

( فتاوى رضويه،169/15)

اَدب گاہیست زیرِ آسمان اَزْ عرش نازُک تَر
نَفَسْ گُم کَرْدَہْ مِی آیَدْ جُنید وبَایَزِید اِیں جا

يعني د آسمان لاندې، د عرش نه نازك يوه داسې باركاه ده چرته چې د جنيد بَغدادي او بايزيد بسطامي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِما په شان لوئے لوئے اولياۓ كرام په اوچت آواز ساه هم نه اخلي.

خوږو اسلامي ورونـو! د عاشِقِ مدينه، اَمِيرِاهلِ سُنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَة په مدينه منوره كښې د ادب او تعظيم واقعاتو باندې كه خبرې اوكړے شي نو كتاب به ترينه جوړ شي. د هغوئې په قافِله كښې يو څو ماشومان[1] هم وو. د مدينے د ښار آداب بيانولو او سفر شروع كولو نه مخكښې هغوئې ماشومانو ته د مدينے د لارې آداب بيان كړل كوم چې د لږ بدلون سره بيانيږي، په دې كښې خاص طور د هُغه مور و پلار د پاره غټ درس دے كوم چې د حرمَينِ طَيِّبَين،

---

[1] ... نمسے حاجي اُسيد رضا عطاري عمر تقريباً 9 كاله، رضاعي يعني د پيئو د خپلوئ نمسے حسن رضا عطاري عمر تقريباً 7 كاله، نمسے جنيد عطاري عمر تقريباً درې نيم كاله، نمسئ حبيبه عطاريه عمر تقريباً 7 كاله.

مسجدُ الحرام شريف او مدينے منورے او مسجد نبوي شريف وغيره مقدسو مقاماتو ته ځان سره ناپوهه واړه ماشومان بوځي. خپل بچي دې بابرکته مقاماتو ته بوتللو نه مخکښې هغوئي ته د دې ځائے آداب لازمي ورزده کړئ د پاره د دې چې د هغوئي په زړه کښې د اوس نه د دې مقدسو مقاماتو عظمت و شان پيدا شي.

سنبھل کر پاؤں رکھنا زائرو! شہر مدینہ میں ‏ ‏ کہیں ایسا نہ ہو سارا سفر بیکار ہو جائے

## د اميرِ اهلِ سُنَّت د سفر ملګرو ماشومانو ته نصيحتونه

خوږو ماشومانو! د مدينے سفر شروع کيدو والا دے، کله چې د مدينے منورے په ريل کښې کښينئ نو قفلِ مدينه اولګوئ يعني فضول خبرې، خندا او توقې وغيره مه کوئ، که څه ضروري خبره وي نو د خپل پلار سره ئې کوئ. بيا بيا پوښتنه کول چې ريل چرته ځي؟ څومره وخت به لګي؟ وغيره تپوسونه مه کوئ، ځکه چې د مدينے په سفر کښې خو بس صرف خوندونه او خوندونه دي. نعتونه وائي، دُرودِ پاك لولئ او ذِکرُ الله کوئ.

میں راہِ مدینہ کے قُربان جاؤں ‏ ‏ کہ اِس میں سُرور اور مزہ ہی مزہ ہے

مدینے میں "قفلِ مدینہ" لگاؤں ‏ ‏ کرم آپ کیجے ارادہ مرا ہے

(وسائلِ بخشش، ص 442)

په مدينه منوره کښې څه څيز په درب مه ګرځوئ بلکه ډير په قلاره ئې ګرځوئ چې آواز پيدا نه شي. که د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په عشق کښې ژړا درشي نو قسم په خدائے! دا ډيره لويه نيك بختي ده.

رونے والی آنکھیں مانگو، رونا سب کا کام نہیں ‏ ‏ ذکرِ محبت عام ہے لیکن سوزِ محبت عام نہیں

یادِ نبی پاک میں روئے جو عمر بھر ‏ ‏ مولیٰ مجھے تلاش اُسی چشمِ تر کی ہے

اللہ پاك دې مونږ ته د مدینے منورے ادب رانصیب کړي په مدینه منوره کښې د شین شین شکلي ګُنبد په یخ سوري کښې دې د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دِیدار په نظارو کښې کلمه لوستلو والا د شهادت مرګ رانصیب کړي او په جنَّتُ البقیع کښې دې مَدفن [قبر] رانصیب کړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم.

## د مدینے د سفر شروع

مکّے مُکرَّمے نه د مدینے منورے په لور سفر جاري دے، تقریباً د دوه نیمو ګینټو دا سفر په مختلفو نعتونو وئیلو او د مدینے د محبت نه ډك ماحول کښې ډوب شو او ډیر زر ریل د مدینے منورے پاکو هواګانو کښې داخل شو. دغه دے چې! ریل مدینے منورے ته داخل شو. [امیرِ اهلِ سُنّت او د قافلے ملګري] ټول د استقبال په شوق کښې اودریدل او د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې ئې سلام عرض کول شروع کړو. یو عربي کس دا منظر لیدلو، هغه د لرې نه په خپل موبائل کښې د دې شکلي یادګار نظارے محفوظې کړې. د مدینے منورے په استیشن باندې ریل اودریدلو او د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په بارګاهِ اقدس کښې د شوق و محبت نه ډکې حاضرۍ [د تیاري] کولو د پاره د اوسیدلو ځائے (هوټل) ته روان شول.

## په بارګاهِ رسالت کښې وړومبۍ حاضري

د عاشقِ صادق ننۍ شپه د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دربار د دیدار شپه ده، امیرِ اهلِ سُنَّت نوې جامې واغوستلې، په سترګو کښې ئې د مدینے منورے د خاورې رانجه اولګول او روان شولو او په ژبه باندې ئې دا شعر جاري وو:

مجرم بلائے آئے ہیں جاءُوکَ ہے گواہ　　　پھر رَدّ ہو کب یہ شان کریموں کے در کی ہے

(حدائقِ بخشش،ص205)

چلا ہوں ایک مجرم کی طرح میں جانبِ آقا　　نظر شرمندہ شرمندہ، بدن لرزیدہ لرزیدہ

کسی کے ہاتھ نے مجھ کو سہارا دے دیا ورنہ　　کہاں میں اور کہاں یہ راستے پیچیدہ پیچیدہ

د مسجدِ نبوي طرف ته په قلاره قلاره روان وو، کله چې مسجد نبوي ته نزدې اورسیدل نو خلیفۀ اَمیرِ اهلِ سُنّت حاجي عبیدِ رضا عطاري مدني مَدَّظِلّهُ العالِی دا نعتیه شعر اولوستلو:

میرے تو آپ ہی سب کچھ ہیں رحمتِ عالَم　　میں جی رہا ہوں زمانے میں آپ ہی کے لیے

[د امیرِ اهلِ سنّت] د سترګو نه اوښکې رواني شوې او لاس په نامه ئې،

یَا رَسُوْلَ اللهِ اُنْظُرْ حَالَنَا　　یَا حَبِیْبَ اللهِ اِسْمَعْ قَالَنَا

اِنَّنِیْ فِیْ بَحْرِ هَمٍّ مُّغْرَقٌ　　خُذْ یَدِیْ سَهِّلْ لَنَا اَشْکَالَنَا

اولوستلو او د روضه انور په لور روان وو، د عاشقِ مدینه د معراج وخت را اورسیدلو، اوګورئ! دغه دے د شین ګنبد ښائسته او ښکلې نظارے! [چې کله مسجدِ نبوي شریف ته داخل شولو نو] د روضۀ انور دیدار کولو سره اَمیرِ اهلِ سُنّت په بارګاهِ رسالت کښې څه داسې سلام عرض کول شروع کړو:

اَلسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ الله　　اَلسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا شَفِیْعَ الْمُذْنِبِیْن

اَلسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا سِرَاجَ السَّالِکِیْن　　اَلسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا خَاتَمَ النَّبِیِّیْن

په ژړا ژړا ئې په ژبه کله درود و سلام او کله د شفاعت د خیرات سوال جاري وو:

اَسْاَلُكَ الشَّفَاعَةَ یَا رَسُوْلَ الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

یعني یَا رَسُولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! زه تاسو نه د شفاعت سوال کووم. څه ساعت ئې د لرې لرې نه په ولاړه ولاړه ادب او تعظیم سره په بارګاهِ رسالت صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې په ژړا ژړا په ژبه درود و سلام جاري وو. د اَمیرِ اهلِ سُنّت خلیفه [حاجي عبید رضا عطاري] د دې شعرونو د

لوستلو په ذریعه د عقیدت محبت او زړه نرمولو کیفیت نور زیات کړلو.

مُجرموں کو شہا بخشواتا ہے تو　　اپنی اُمّت کی بگڑی بناتا ہے تو

غم کے ماروں کو سینے لگاتا ہے تو　　غمزدوں بے کسوں کا تو غمخوار ہے

تیرا ثانی کہاں! شاہِ کون و مکاں　　مجھ سا عاصی بھی اُمّت میں ہو گا کہاں!

تیرے عَفْو و کرم کا شہِ دو جہاں!　　کیا کوئی مجھ سے بڑھ کر بھی حقدار ہے؟

بیا په ژړا ژړا په شا روان شولو او دغسې په شا تللو تللو د ګاډي طرف ته بیرته روان شولو، ځکه چې کعبے ته شا کول ادب نه دے نو بیا د کعبے کعبے ته څنګه شا کیدے شي؟

## د امیرِ حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په مزار حاضري

په بارګاهِ رسالت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کښې د حاضرۍ نه پس اَمِیرِ اهلِ سُنّت د عاشقِ رسول غر جبلِ اُحُد په لمَن کښې واقع د سَیِّدُ الشُّهداء، حضرت امیرِ حمزه او د اُحُد د نورو شهیدانو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم مبارکو مزاراتو ته حاضري اوکړه او د فاتحه لوستلو نه پس ئې هلته موجودو عاشقانِ رسول سره ملاقات اوفرمائیلو.

## مسجد نبوي شریف ته حاضري

په صبا له د سحر په وخت اَمِیرِ اهلِ سُنّت مسجد نبوي ته حاضر شولو. په قلاره قلاره قدمونو اخستلو سره د تللو انداز مرحبا! په ژبه ئې د عاشقِ ماهِ رسالت اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه شعرونه جاري وو:

قسمتِ ثَور و حِرا کی حِرص ہے　　چاہتے ہیں دل میں گہرا غار ہم

ہاتھ اُٹھا کر ایک ٹکڑا اے کریم!　　ہیں سخی کے مال میں حقدار ہم

(حدائقِ بخشش، ص 83،85)

کله به ئي د اعلیٰ حضرت د ورور مولانا حسن رضا خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه دا شعر لوستلو:

بخشوانا مجھ سے عاصی کا رَوا ہو گا کسے
کس کے دامن میں چُھپوں دامن تمہارا چھوڑ کر

(ذوقِ نعت، ص134)

بیا ئي په داسې ځائے کښې د اشراق او ځاښت لمُونځ ادا کړو د کوم ځائے نه چې شین شین ګنبد واضحه ښکاریدلو. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د ژوند قیمتي ساعتونه دي، د خوشحالئ ساعتونه دي. د **الله** پاک رحمتونه ډیر زیات راوریږي. څه ساعت ئي په ډیره مینه او محبت سره د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې د درود و سلام ګلدستے پیش کړې، په دې دوران کښې چې ئي څنګه په شین شین ګنبد شریف نظر پریوتلو فوراً ئي په ادب او تعظیم سره لاسونه اوتړل او سر ئي ټیټ کړو او په زړه زړه کښې معلومه نه ده چې عاشقِ صادق د خپل خوږ **محبوب** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې څه څه زارئ اوکړې. واپسئ کښې په ګاډي کښې خلیفۀ امیر اهلِ سُنَّت د دې نعت شعرونه لوستل شروع کړل:

آس تم پر لگائے ہوئے ہیں   لُطف و رحمت کا ہی آسرا ہے

زړه ئي د مخکښې نه په عشقِ رسول کښې زخمي شوے وو، د استغاثے دې شعرونو پکښې نور اثر پیدا کړو. اَمیرِ اهلِ سُنّت په زوره زوره اوژړل او په ژړا ژړا کښې د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې څه داسې عرض اوکړو: یَا رَسُولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! د ګناهونو نه ډك مې بیرته مه لیږئ، په خپل **رب** تعالیٰ مو اوبخښئ، په جنَّت کښې مو خپل ګاونډي جوړ کړئ. اوس خو مې د ژوند جام په ډکیدو دے، ډیر بوډا شوے هُم یم، د نیکو کولو طاقت نه لرم، که تاسو راباندې نظرِ کرم اونکړو نو.....

هغوئی په خپل نعتیه کتاب وسائل بخشش کښې لیکي:

سفینے کے پَر نچے اُڑ چکے ہیں زورِ طوفاں سے   سنبھالو! میں بھی ڈوبا اے مری جاں یا رسولَ الله

(وسائلِ بخشش،ص340)

# د مدینے منورے نه جُدائي

حضرت مفتي احمد يارخان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: مدينے منورے نه د بيرته تللو په وخت چې د زيارت كوونكو كوم حال وي د هغي پوښتنه مه كوئ، د مدينے د فضاګانو جدائي ډير خفه كول كوي. ما داسې خلق ليدلي چې د مسجد نبوي شريف چوكاټ ئې نيولے وي او ژاړي.
(مرأة المناجيح، 506/2)

بدن سے جان نکلتی ہے آہ سینے سے
تِرے فِدائی نکلتے ہیں جب مدینے سے

روضہ اچھا زائرا چھے اچھی راتیں اچھے دن
سب کچھ اچھا ایک رخصت کی گھڑی اچھی نہیں

# په مدينه منوره كښې آخرئ شپه

په مدينه منوره كښې تقريباً د 36 ګينټو مختصرې حاضرئ نه پس د اَمِيرِ اهلِ سُنّت د مدينے مُنَوَّرے نه د جدائي ساعت رانزدې شو. هغوئي د مركزي مجلس شورىٰ ركن الحاج سيد ابراهيم شاه صاحب مَدَّظِلُّهُ العالِي د پاره څه داسې يو ليك ترتيب كړو: افسوس! يو څو ساعتونه په طيبه كښې پاتې شو.

اے آنکھ! خون رولے تو رونا ہے جس قدر

دا چې ليكم نو تقريباً څلور نيمې ګهنټے پس(په بقيع كښې د ځائے نه مِلاويدو په صورت كښې) كيدے شي چې مدينه به رانه پاتې شي. آه! (21 ربيعُ الآخر 1444ھ 2022- 11- 17)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د رخصتئ حاضري

نن شپه د مدينے منورے نه د جدائي شپه ده. د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په باركاه كښې درود

وسلام عرض کولو سره به نن شپه د مدینے منورے نه د جدائي د غم د جام نه ګوټ کولو باندې مجبوره شو.

په دې دور کښې که يو ربتينے عاشق د خپل محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د بارګاه نه د جدائي د غم کيفيت ليدل غواړي نو د امیرِ اهلِ سُنَّت د مدینے منورے نه د جدائي منظر دې اوګوري. دا ژړوونکے منظر ليدلو سره به ئي د سترګو نه اوښکي جاري شي. اَمِيرِ اهلِ سُنّت د خپلې کمرے نه په ژړا رارواں شولو ديوالونه او وروته ئي ښکلول او دغسې لفټ ته داخل شو او د لفټ ديوال سره جوخت شولو، او ډير زيات ئي اوژړل، په دې حالت کښې د لفټ نه را اووتلو په ګاډي کښې کښيناستلو او د جنتُ البقيع په لور مين سرګ باندې ئي د شين شين ګنبد زيارت کولو او ژړل ئي. د درود و سلام عرض کولو سره چې کله بيرته د تللو وخت راغے نو دومره سخت ئي اوژړل چې ورسره موجودو عاشقان رسول هُم په خپلو جذباتو قابو اونه موندله، بيا اسلامي ورور ورمخکښې شو او د لاس نه ئي اونيولو..... او.... په ګاډي کښې کښيناستلو.

ګاډے په قلاره قلاره د مسجد نبوي شريف نه لرې کيدلو، عاشقِ مدينه امیرِ اهلِ سُنَّت د مدینے په جدائي کښې د اوښکو ډکو سترګو سره د مسجد نبوي شريف ګنبد او مينار ته کتل. ناڅاپه ئي [په ژړا ژړا کښې] اووئيل: اوس خو ګنبد شريف هُم نه ښکاري. دا اوريدل وو چې د عاشقان رسول د سترګو نه د اوښکو لړئ رواني شوے.

## ژړوونکي الفاظ

په دې غمژن کيفيت کښې ئي په ژړا ژړا په ژبه دا جاري شو: اَلوَداع يَا رَسُولَ الله! اَلوَداع يَا رَسُولَ الله! آقا! مدينه رانه پاتې کيږي! آقا! بيا بيا مو را اوبلئ، آقا! کرم اوکړئ، د شفاعت نه مو محرومه نه کړئ، زمونږ د ټولو نه خوشحاله شئ، د هميشه هميشه د پاره را نه خوشحاله شئ، د خپل رب نه بخښنه را عطا کړئ، يَا رَسُولَ الله! د ټول اُمَّت د خير دعا اوفرمائے، د شهزادګانو او

صحابهٔ کرامو په خاطر د هر دعوتِ اسلامي والا د شفاعت خاص سوال دے، يَا رَسُولَ الله! کرم اوفرمائے، د شفاعت خيرات را عطا کړئ.

اَسْأَلُكَ الشَّفَاعَةَ يَا رَسُوْلَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

آتے ہوئے کیا سَہل مدینے کا سفر تھا | جاتے ہیں تو ایک ایک قدم راہ کڑی ہے
روتے ہوئے پہنچے تھے روتے ہوئے لوٹے ہیں | چندوَصل کی گھڑیاں تھیں اَب ہجرِ مدینہ ہے

## د مدينے منورے نه د جدّے شريفې په لور

د مدينے منورے نه د ريل په ذريعه جدے شريفې ته بيرته روان شولو، تقريباً په تړوله لاره الوَداعي کلام اوريدلو اوريدلو سره اميرِ اهلِ سُنَّت د مدينے په جدائې کښې اسويلي کول، په دې سفر کښې هغوئي يو مدني اسلامي ورور ته د ليک په صورت کښې د مدينے منورے د جدائې د دردناك کيفيت اظهار اوکړو:

”هائے افسوس! مدينه مې د نظر نه پناه شوه. ريل لرې راوستلو، آه! اوس به جدّه شريف راشي. او بيا.... بيا.....“

اميرِ اهلِ سُنَّت د عرب شريف د پاکيزه فضاګانو نه د جدا کيدو آخري ساعتونه د خپل دې شعر حقيقي ترجماني کوي:

میں شکستہ دِل لئے بوجھل قدم رکھتا ہوا | چل پڑا ہوں یاشَہَنْشاہِ مدینہ الوداع

(وسائلِ بخشش، ص237)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! اَمِيرِ اهلِ سُنّت په دې مبارك سفر کښې په مختلفو مقاماتو کښې د يو څو عاشقانِ رسول په نوم څه تحريرونه ترتيب کړي دي. هغه اوګورئ او د مدينے په

یاد کښې ډوب شئ خنګه چې چا وئیلي دي:

هم مدینہ گھوم آئے، جالیوں کو چوم آئے        جب کسی نے چھیڑی ہے گفتگو مدینے کی

د اَمِیرِ اهلِ سُنّت د تحریرونو ویډیو کتلو د پاره په دې Link باندې Click اوکړئ:
https://www.ilyasqadri.com/medialibrary/120543

د مدینے د سفر مکمله ویډیو کتلو د پاره په دې Link باندې Click اوکړئ:
https://www.ilyasqadri.com/medialibrary/119527

مدینے منورے ته د تللو د کیفیت نظارے لیدلو د پاره په دې Link باندې Click اوکړئ:
https://www.ilyasqadri.com/medialibrary/124244

# کیسی وہ پُر کیف گھڑی تھی

اللہ غنی کیسی وہ پُر کیف گھڑی تھی
جب سامنے نظروں کے مدینے کی گلی تھی

نظروں سے لیے بوسے کبھی ہونٹوں سے چوما
اس شہر کی ہر چیز مجھے خوب لگی تھی

لَج پالوں کے لَج پال کی چوکھٹ پہ کھڑا تھا
قسمت میری اُس در پہ کھڑی جھوم رہی تھی

اُس نعتِ مُقدّس پہ ہر اک نغمہ تَصدُّق
حسّان نے جو نعت مدینے میں پڑھی تھی

کیفیتِ دل کیسے بتاؤں تمہیں لوگو،
جب پہلی نظر گنبدِ خضریٰ پہ پڑی تھی

مجرم تھا کھڑا سر کو جھکائے ہوئے در پر
آنسو تھے رواں ایسے کہ ساون کی جھڑی تھی

اُس شہر کے ذرے تھے چمکتے ہوئے تارے
ہر چیز وہاں نور کے سانچے میں ڈھلی تھی

لے ڈوبتے اعمال مرے مجھ کو نیازی
جا پہنچا مدینے مری تقدیر بھلی تھی

(مولانا عبد الستار خان نیازی)

## درارواني هفتي رساله




فيضان مدينه محله سوداگران، زره سبزي منڊيءَ ڪراچي

UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com